# شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان


## ابراز علاقه‌مندی ازبیکستان به سرمایه‌گذاری در بخش معادن افغانستان

الحاج ملا هدایت‌الله بدری، وزیر معادن و پترولیم با اوبیبک عثمانوف، سفیر جمهوری ازبیکستان، در دفتر کاری‌شان دیدار نمودند. در این دیدار، دو طرف پیرامون گسترش و توسعهٔ همکاری‌های مشترک، تقویت روابط تجاری و اقتصادی میان دو کشور، به‌ویژه سرمایه‌گذاری در بخش منابع معدنی افغانستان، بحث و تبادل نظر کردند. سفیر جمهوری ازبیکستان ضمن ابراز سپاس از مهمان‌نوازی رهبری وزارت، دستاوردهای امارت اسلامی را در بخش‌های مختلف بااهمیت دانسته، علاقه‌مندی سرمایه‌گذاران کشورش را برای سرمایه‌گذاری در بخش منابع معدنی افغانستان ابراز نمود. همچنان در مورد مشکلات موجود پروژه طوطی‌میدان صحبت کرده، نظریات و پیشنهادات خویش را در این زمینه شریک ساختند. وزیر معادن و پترولیم، ضمن استقبال از علاقه‌مندی سرمایه‌گذاران ازبیکستان برای سرمایه‌گذاری در بخش معادن کشور، از همکاری‌های همه‌جانبه این وزارت و فراهم‌سازی تسهیلات بیشتر به‌منظور جذب، حمایت و تشویق سرمایه‌گذاران خارجی اطمینان دادند.


د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۱۰۵ ګڼه / دوشنبه د محرم‌الحرام ۲۷مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۲۲مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۱۳مه ۲۰۲۶ میلادي


# د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم له مخې څلورو برخو کې نوي مالیاتي تخفیفونه نافذ شول

د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي ویلي: د عالیقدر امیرالمؤمنین د حکم له مخې په څلورو برخو کې نوي مالیاتي تخفیفونه نافذ شوي دي. نوموړي د مالیې وزارت د مالیاتي تخفیفونو د اعلان په ناسته کې ویلي: په دې تخفیفونو کې حکمي او حقیقي اشخاص، د ملکیتونو انتقال او سون توکي شامل دي. د ده په وینا، د کانونو د استخراج له شرکتونو پرته د شرکتونو او خصوصي روغتونونو په ګډون د ډېرو حکمي اشخاصو د عایداتو مالیه ۱۰ سلنه راکمه شوې، د حقیقي اشخاصو د مالیاتي معافیت کچه له ۶۰ زرو څخه ۱۲۰ زرو افغانیو ته لوړه شوې او د ملکیتونو د انتقال مالیه له یوې سلنې څخه ۰.۵ سلنې ته راټیټه شوې ده. حنفي د خصوصي ...۳مخ

## اسلامي امارت د قطر د پخواني امیر پر مړینې خواشیني وښووده

د افغانستان اسلامي امارت د قطر د پخواني امیر، شیخ حمد بن خلیفه ال ثاني، د مړینې له امله د قطر له دولت، ولس او د نوموړي له کورنۍ سره خواخوږي څرګنده کړې ده. د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح‌الله مجاهد، په یوه پیغام کې ویلي: امارت د لوی الله تعالی له درباره د ارواښاد شیخ حمد بن خلیفه ال ثاني لپاره د جنت الفردوس او د هغه د کورنۍ، خپلوانو او ټولو خواخوږو لپاره د جمیل صبر او ستر اجر غوښتنه کوي. د قطري رسنیو د راپورونو له مخې، شیخ حمد بن خلیفه آل ثاني

د ۷۴ کلونو په عمر وفات شو. هغه له ۱۹۹۵ څخه تر ۲۰۱۳ پورې د ۱۸ کلونو لپاره د قطر امیر و. هغه په خپله خوښه استعفا ورکړه او خپل زوی تمیم بن حمد یې د خپل ځای ناستي په توګه وټاکه. اسلامي امارت په خواشینۍ سره د شیخ حمد بن خلیفه ال ثاني د مړینې خبر ترلاسه کړی او د قطر دولت، د هغه کورنۍ او د دغه هېواد خلکو ته خپله ژوره خواخوږي وړاندې کوي. ښاغلي مجاهد زیاته کړې: اسلامي

## کابل او بیجینګ د رسنیو په ډګر کې د همکاریو نوی پړاو پیلوي

د افغانستان د دولتي او خصوصي رسنیو یوه ګډه پلاوي د بهرنیو چارو وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو د رئیس حافظ ضیاء احمد تکل په

مشرۍ د چین په رسمي بلنه دغه هېواد ته سفر کړی دی. یاد پلاوي د دې سفر په ترخ کې د شانګهای، شي‌ان او ارومچي ښارونو له یو شمېر تاریخي، فرهنګي، رسنیزو، صنعتي او سیاحتي مرکزونو لیدنه کړې. دوی همدا راز د چین د بهرنیو چارو وزارت له یو شمېر مسئولینو سره په کتنو کې د افغانستان او چین ترمنځ د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او په ځانګړي ډول د رسنیزو همکاریو د پراختیا په اړه خبرې وکړې. د افغان پلاوي مشر ... ۳مخ

## اسلامي امارت د کانکور او دیني مدارسو لس تنه مخکښان وستایل

**شریعت:** د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د یوې غونډې په ترخ کې د ۱۴۰۵ کال د عمومي کانکور او د دیني مدارسو د ازموینو لس تنه بریالي مخکښان په نغدي جایزو او ستاینلیکونو وستایل شول. د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال، مولوي عبدالسلام حنفي، په دې مراسمو کې ویلي: اسلامي امارت د ځوانانو خدمت خپل مسئولیت ګڼي او هڅه کوي، چې د دوی لپاره ټولې لازمې اسانتیاوې برابرې ... ۳مخ

## افغاني غالۍ د نړۍ ۳۸ هېوادونو ته صادرېږي

د افغاني غالیو تولیدوونکې او صادروونکې ټولنې ویلي، چې اوسمهال په هېواد کې د غالیو د تولید په برخه کې د ډېرو ښځینه‌وو په ګډون څه باندې ۱۵ زرو کسانو ته کاري زمینه برابره شوې ده. د یادې ټولنې مسئولینو په هېواد کې د غالیو د تولید ظرفیت د میاشتې تر ۱۰ زرو مترو پورې ښودلی، چې اوسمهال د افغانستان غالۍ د نړۍ ۳۸ هېوادونو ته صادرېږي. د افغانستان په غالیو کې اصیلې طرحې، د اوبدونکو مهارت او د طبیعي وړیو کارول د لوړ کیفیت اصلي ...۳مخ

**تربیت اصولی**
**فرزندان زیربنای توسعه و پیشرفت جامعه است**
ص۲

## سرمقاله

# عدالت د هر نظام د بقا بنسټ او فساد یې د کمزورۍ پیل دی!

د بریا او ناکامۍ په هکله دا یو روښانه او څرګند قضاوت دی چې واکمني یوازې د ځواک، شتمنۍ او پراخو امکاناتو پر مټ نه پایبري. هغه څه چې یو نظام د خلکو په زړونو کې ځایوي او د دوام وړ یې ګرځوي، عدالت دی. هر کله چې عدالت د حکومتولۍ په رأس کې وي، یعنې واکمنان عادل وي، نو د ولس باور پر خپل حکومت پیاوړی کېږي، قانون ته یې درناوی کوي او ټولنه د ثبات پر لور حرکت کوي، خو چې فساد د ادارو په رګونو کې ځای ونیسي، د نظام د کمزورۍ لړۍ هم له هماغه ځایه پیلېږي.

اسلام د عدالت د ټینګښت لپاره داسې معیار وړاندې کړی چې د واکمن او رعیت ترمنځ یې هېڅ توپیر نه دی پرېښی. هر څوک د حق، قانون او مسئولیت پر وړاندې یو شان ګڼل شوي دي. همدې اصل اسلامي حکومتولي له شخصي غوښتنو او سلیقو پورته درولې او د خلکو حقونه یې د امانت په توګه تعریف کړي دي. کله چې دا امانت په صداقت او ښتینولۍ ادا شي، د ولس او دولت تر منځ اړیکې ټینګېږي او د باور یوه بشپړه فضا رامنځته کېږي.

فساد بیا د عدالت مخالف جهت یا لوری دی. فساد هر هغه عمل ته ویل کېږي چې عامه ګټې زیانمنوي، د قانون پر ځای شخصي اړیکې واکمنوي او د مسئولیت پر ځای ځان غوښتنه رواجوي. د داسې کړنو پایله بیا دا وي چې د خلکو هیلې ورسره کمزورې کېږي، د ادارو اعتبار زیانویني او د پرمختګ بهیر له خنډونو سره مخ کېږي.

د اسلامي امارت له بیا حاکمېدو وروسته د اداري اصلاحاتو، د بیت المال د ساتنې، د عوایدو د شفافو راټولولو او د قانون د حاکمیت په برخه کې څرګند ګامونه اخیستل شوي دي. د فساد پر وړاندې د جدي دریځ خپلول، د بې‌نظمۍ مخنیوی او د حساب ورکولو فرهنګ پیاوړی کول؛ هغه هڅې دي چې د سالمې ادارې د جوړېدو لپاره ارزښت لري. د دغو هڅو دوام کولی شي د خلکو باور لا پسې غښتلی او د نظام بنسټونه لا ټینګ کړي. ۲مخ

## هلمند کې د خوارځواکو ماشومانو د درملنې دوې ځانګې پرانیستل‌شوې

د هلمند ولایت د عامې روغتیا ریاست له لوري د یونیسف نړیوال سازمان په مالي ملاتړ د ګرمسېر ولسوالۍ په مرکزي روغتون کې او د واشېر ولسوالۍ اړوند د سیاه پشتې روغتیایي مرکز کې د خوارځواکو ماشومانو د درملنې دوه نوې ځانګې د ۳۷ لکه افغانیو په لګښت جوړې او رسماً ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د عامې روغتیا ریاست مسئولین د یونیسف نړیوال سازمان له دوامدارو ... ۳مخ

## د کابل والي د یوناما له مسئولې سره د پلازمېنې پر اړتیاوو غږېدلی

د کابل والي امین‌الله عبید، د یوناما د مرکزي زون له مشرې تابیتا بوګوا او د هغې له مل پلاوي سره په لیدنه کې د کابل ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د شته ننګونو، اړتیاوو او لومړیتوبونو په اړه خبرې کړې دي. نوموړي ...۳مخ

## پکتیکا کې د ګرځندوی د ودې لپاره د سیاحتي سیمو سروې ترسره شوه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ګرځندوی، مالي او اداري معینیت اړوند پلاوي د پکتیکا د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د مسئولینو په ملتیا د یاد ولایت یو شمېر سیاحتي سیمې ثبت او سروې کړې. د پکتیکا د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس ملا محمد امین حذیفه وویل: له وزارت څخه راغلي پلاوي د مرکز شرڼې ترڅنګ په یو شمېر ولسوالیو کې ښکلې سیاحتي سیمې هم ثبت او سروې کړې، ترڅو په دغو سیاحتي ځایونو کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د پانګونې ترڅنګ نور پانګوال هم پانګونې ته وهڅول شي او د کورنیو او بهرنیو سیلانیانو پاملرنه ورجلب کړي. د پکتیکا ... ۳مخ

## د پروان – کوه صافي سړک د لومړي لاټ د جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې دي

د ټولګټو چارو وزارت ویلي چې په پروان ولایت کې د پروان–کوه صافي عمومي مسیر د لومړي لاټ ۲۰ کیلومتره سړک د جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې دي. د دغه وزارت ویاند، محمد اشرف حق‌شناس په ایکس‌پاڼه لیکلي، چې د یاد سړک چارې د څه باندې ۶۴۱٫۶ میلیونو افغانیو په ارزښت له خصوصي سکتور سره قرارداد شوې دي. د خبرپاڼې له مخې تر دې مهاله د یادې پروژې د بېلابېلو برخو د کیندنې، هموار کارۍ، د سړک بیس د لنګر کارۍ او همدارنګه د یو شمېر پلکوټو د کیندنې او جوړولو چارې جریان لري. سرچینې لیکلي، چې د دې پروژې ...۳مخ

## کاناډا د سمنګانو له روغتیایي سکتور سره د درملو مرسته وکړه

د سمنګانو ولایت د عامې روغتیا ریاست ته د کاناډا د دولت له لوري د نږدې ۲۴ زره ډالرو په ارزښت څه باندې ۵۰ قلمه اساسي درمل او طبي ملزمات وسپارل شول. دا مرسته د روغتیایي سکتور د ملاتړ او د ناروغانو د لومړنیو او بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو په موخه شوې ده، چې د پلان له مخې به د سمنګانو ولایتي روغتون او د حضرت سلطان، روی دوآب، دره صوف بالا او دره‌صوف پایین ولسوالیو یو شمېر روغتیایي مرکزونو ته ووېشل شي؛ څو د باکیفیته روغتیایي خدمتونو په وړاندې کولو کې ترې ګټه واخیستل شي.

# د قلمي مبارزې اهمیت

**احمد ریان زرمتی**

د دښمن پر خلاف د پوځي جګړې په څنګ کې قلمي مبارزه/ جګړه هم زیاته مهمه ده. که چېرته له پوځي جګړې سره قلمي مبارزه نه وي، نو نتیجه به یې ډېره مثمره نه وي.
که قلمي مبارزه نه وي، نو بیا داسې مثال لري، لکه ټوپک چې وي او جاغـور او پکې مرمۍ نه وي، نو تش ټوپک د دښـمن پر وړاندې کومه لاسـته راوړنه نه لري او برعکس دښمن پرې بریالـی کېږي. اوس وخت کې فکـري جګړه، چې هرڅوک ورته ځانګړې اهمیت ورکوي، نو ډېره تکیه یې پر قلمي مبارزه وي. د دې اهمیت له دې هم معلومولی شـو، چې هر دولت د اطلاعاتو په نامه یـو وزارت لري، چې اصلاً د تبلیغاتو وزارت هم ورته ویلی شـو او موخه یې دا وي، چې د خلکو پر افکارو باندې کار وکړي او د ځوان کهول لپاره بېلابېلې طریقې پر لاره واچوي. نو په فکري جګړه کې زیات تمرکز د دښـمن پر فکر او روحیه باندې وي، چې هغه د قلمي مبارزې پر مټ منځ ته راځي. کله چې د دښـمن پر ضد د دښمن د روحیې د خپلولو لپـاره ټول امکانات پر لاره واچول شـي، نو داده اوسـه، چې دښـمن مو له منځه ورلای شـئ او یا یې خپلولای شئ، چې دا ستره بریا ده.
د دې قلمي مبارزې اهمیت باید له دې هم معلوم شـي، چې امریـکا او ملاترو یې د دې فکري جګـړې لپاره څومره توجه کړې او څومره کار یې ورته کړی، چې لسګونه اسباب یې د دې جګړې د مخته وړلو لپاره پر لاره اچولي. ټلوېزیونونه، انټرنېټ، مختلف پروګرامونه، اپلیکېشـنونه، ګېمونه، سریالونه، ډرامې، لیکنې، کتابونه، تفرېحي پروګرامونه، سـیمینارونه، ټرېننګونه او نور قسماقسـم ډولونه او ماډلونه استعمالوي او د اسلام پر وړاندې ترې استفاده کوي.
د اسـلامي امارت پر وړاندې د کفر او د هغـوی د ملاتړو دا فکري جګړه له هېچا پټه نه ده، ښـه په آزاد مټ خپرېږي، خو زما او ستا یو اسلامي پسـټ/ټویټ هم نه‌شي برداشت کولی او ختموي یې.
خو بل لور ته لله الحمد زما او ستا دا اسلامي قلمي مبارزه ورځ تربلې د قوت پر لور کوټلي ګامونه اخلي، رښتیني معلومات او حقایق تر ټولو نړیوالو رسول کېږي.
امید دی، چې ستا دا سـپېڅلې قلمي مبارزه به، دغه اسلامي شـرعي نظام ته نوره هم بقا ور وبښـي، ځکه زموږ او ستاسې هدف هم د اسلامي نظام قیام او بقاء ده، خو په دې شرط چې زما او ستا په نیت کې فرق رانه‌شي.
تاسې یاست، چې د دښمن مخه مو نیولې او د هغوی هره باطله خبره د همدې قلمي مبارزې په واسطه په نطفه کې خنثی کوئ او پر هغوی باندې توند ګوزاونه کوئ او ورته ځوابونه ورکوئ او کفارو او پرکټېو ته یې په نقلي دلایلو ماتې ورکوئ.
سـتا د قلمي مبـارزې برکـت دی، چې ټوله نـړۍ کې مو د «افغانستان اسـلامي امارت» نوم ځلولی او ښه نمایندګي مو کړې، چې ټول نړیوال اوس د افغانسـتان په تړاو مثبت نظرونه لري او عقیدتاً یې دومره له اسلامي امارت سره مینه پیدا شوې، چې په خپله خوښه د افغانستان په تړاو خوندورې لیکنې کوي او افغانستان ته د راتګ لپاره زړه ښه کوي.
نو اې قلمي مبارزه!
مقصد مې دا دی، چې دغه سـنګر خوشې نه کړئ، نه یې باید دښـمن ته په لاس ورکړئ او دغه سنګر باید د قلم په سیوري وساتئ!. څنګه مو چې خپل نظام د نفس او مال په قربانۍ سره وساتلو/سـاتو، دغه‌راز اوس باید د پخوا په څېر دغه سپېڅلی نظام هم د قلمي مبارزې پر مټ وسـاتو او په اړه یې داسې څه خپاره کړو، چې د همدې نظام لومړیتوب پکې نغښتی وي.
خپلو دښمنانو ته په کمین کې کېنه، پټې څېرې یې بربنډې کړه، شـبهو ته یې پر وخت ځواب ورکړه، د هره نطفه یې خنثی کړه، هره ورځ له خپلو قلمي مبارزینو سـره په اتفاق او اتحاد خپلې ورځنۍ چارې پر مخ یوسه، د یو جسد په څېر ورسره و اوسه.
خو یوه خبره مو باید په یاد وي، که چېرې مو په همدغه خدمت کـې د رب تعالی رضا او اخلاص وي، نو کولی شـې، چې د دښمن تختونه او ژور پلانونه رانسکور کړې. باذن الله تعالی.
د همدې اخلاص برکت دی، چې د دښـمن لوی لوی پلانونه مو رانسـکور کړل او لا یې هم د مخنیـوي لپاره خپلې هڅې کوئ او ورځ تر بلې لیدل کېږي، چې د دین د دښمنانو په لیکو کې مو تزلزل رامنځته شوی، د اسلامي امارت سپېڅلې داعیې ته لبیک وایي، ستاسې حقایق درک کولی شي او امید دی، چې رب تعالی به مو په دې خدمت د کفر لوی لوی پلانونه شـنډ کړي.
خدای تعالی مو دا سـتر خدمتونه په خپـل دربار کې قبول او منظور کړه.
په پای کې قلمي مبارزینو ته یوځل بیا وایم، چې دا سـپېڅلی مورچل کلک کړئ، بلکې دا یو خپل مسئولیت وګڼئ، ترڅو مو د شهیدو شویو ورونو په قربانیو راغلی نظام لا هم محکم او تل له هره اړخه وژغورل شي، بس نو دا ستا ستر جهاد او د اسلامي امارت سره لویه مرسته ده، نو په یوه لوړه حوصله همدې قلمي مبارزې ته رامخته شه!

# خورسندی همشهریان از احداث سرک ها

**استوار**

در حاشـیه مشـکلات بازمانده از پیامد جنگ های تحمیلی چهار دهه گذشته در کشور یکی هم معضل کمبود سرک ها وجاده های کم عرض، تنگ وکند وکپر در شـهر کابل بود که به نحوی از انحاء مشکلات عدیده ای را برای شهروندان خلق کرده بود و راه بندان های دوامدار که ساعت ها را در برمیگرفت هر روز در هرگوشـه شهر ادامه داشت، با گذشتن وعبور ومرور یکی از مسئولین با وسایط تعقیبی آن باید جمع غفیری از عابرین همان مسیر دست زیر الاشه نشسته و انتظار بکشند تا آقازاده ای با طنطنه وتمکین از ساحه بگذرد و پس از آن راه به روی عابرین باز گردد. این گونه مشـکلات در زمان زمامداری اداره کابل زیاد وجود داشت و مردم شاهد بوده اند که بالاثر این گونه بی عاطفه گی های مسئولین حتا مریضان مردم در راه تلف شـده، اما کجا بود احساس هم میهنی و انسانی. اکنون که با توجه مسئولین امارت اسلامی چنین مشکلات از بین رفته، با ایجاد سرک های جدید و بازسازی سرک های سابقه مشکلات مردم برطرف گردیده و در هیچ گوشه شهر راه بندان وجود ندارد و مردم می توانند به کار و بار خویش به اسرع وقت برسند. این یک مایه خوشی برای همه شهروندان است و در عرصه ایجاد سرک های جدید با اشتیاق تمام مردم آماده همکاری با دولت ونهاد های ذیربط اند، زیرا سـرک ها حیثیت رگ های خون در بدن رابرای یک شهر دارد.
با ایجاد سرک های فراخ با در نظرداشت کوتاهی راه می توانیم از ضیاع وقت همشهریان و عابرین جلوگیری کنیم، در مسائل حمل ونقل کالا های مورد نیاز شهروندان تسهیل ایجاد می گردد وهمچنان مریضداران در وقت کم می توانند مریض خویش را به شفاخانه و داکتر انتقال دهد.
آنچه قابل تمکین وتأمل است اکنون نگهداری و حفاظت این سرک هاست که باید شهروندان در پاکی، حفظ ونگهداشت این سرک ها که سرمایه ملی است توجه نموده و آن را مال شخصی خود بپندارند، از وسایط بلند تناژ در وقت حمل ونقل کالا های تجارتی و نیاز های شخصی خویش که باعث تخریب وشکستن اسفالت سرک ها می گردد استفاده ننمایند.
در پاکی، حفظ و نگهداشـت آن جداً توجه نمایند و با کارمندان تنظیف شاروالی همکاری داشته باشند، تا یک شهر پاک وسرسبز داشته باشیم، زیرا صحت در محیط زیست سالم وجود میداشته باشد.

# د کانکور او نورو ډله ییزو ازموینو اخیستلو پروسې

**ناصر خان شېرزی**

ازموینې د هر هېواد د بشري پانګې د ارزونې، د وړتیاوو د تشخیص او د عدالت د تأمین لپاره بنسـټیز ارزښت لري. د ازموینو عمومي اداره هم د شفافیت، دقت او عصري وسایلو پر بنسټ خپلې ټولې چارې په منظم ډول پر مخ وړي، څو هر ګډونـوال ته د برابر فرصت او عادلانه ارزونې زمینه برابره شي.
د ازموینې پروسه له نوملیکنې څخه پیلېږي، ګډونوال لومړی د ازموینې د نوملیکنې فورمه د ازموینو عمومي ادارې له ویب پاڼې څخه ښکته کوي او په سمه توګه یې ډکوي، چې د اړوندې ادارې له ارزونې او تأیید وروسته یاده فورمه د ازموینو عمومي ادارې ته سپارل کېږي.
د معلوماتو د ثبت آمریت له لوري فورمونه په ځانګړي سیستم کې ثبتېږي او هـر ګډونوال ته جلا او ځانګـړی آی ډي نمبر ورکول کېږي. همدغه آی ډي نمبر د ازموینې د ټولو راتلونکو پړاوونو اساس او بنسټ جوړوي.
له دې وروسـته، د همدغه آی ډي نمبر پر اساس سیستم د هر ګډونوال لپاره ځانګړی کارت جوړوي، چې د بایومتریک معلوماتو له ثبت څخه مخکې د ازموینې ګډونوالو ته وېشل کېږي. دا بهیر د ګډونوالو د هویت د تثبیت او د هر ډول احتمالي تېروتنې او تکرار د مخنیوي لپاره مهم رول لري.
د ازموینو د عمومي ادارې له ټولو مهم او حساس پړاو د پوښتنو جوړول دي. په دغه پـړاو کې د هېواد متخصص او تجربه لرونکي اسـتادان د قرنطین په ځانګړو شرایطو کې د ازموینو پوښتنې برابروي. په دې بهیر کې د قرنطین ځانګړې ساحې ته د هر ډول برېښنایي وسایلو د داخلېدو اجازه نه ورکول کېږي او نه هم څوک کولای شي، چې د قرنطین له ساحې څخه کوم معلومات یا اسناد بهر ته انتقال کړي.
قرنطین په دوه ډوله ترسـره کېږي، لومړی قرنطین هغه دی چې هره ورځ د مازدیګر له څلورو بجو وروسـته پیلېږي. پـه دې موده کې د ازموینو کمېټــې غړي د کانکور ازموینې لپاره نوې پوښـتنې جوړوي او مخکې جوړې شــوې پوښتنې له ارزونې وروسته اصلاح کوي، څو د کیفیت او معیاریوالي کچه لا لوړه شي.
دوهم ډول قرنطین د ځانګړو(د ډاکټرانو د فعالیت جواز، د مالیې وزارت د بستونو، د ماسټرۍ، دوکتورا او نورو تخصصي) ازموینو لپاره تنظیمېږي. په دغو مواردو کې د اړوندو برخو متخصص استادان راغوښتل کېږي او تر هغه وخته پورې د قرنطین له سـاحې څخه د وتلو اجازه نه لري، څو ازموینه پیل شوې نه وي.
له چمتو شـویو پوښتنو وروسته، ټولې پوښـتنې د ځانګړي او خوندي سیسـتم له لارې جمبل کېږي، څو هر ګډونـوال ته جلا او ځانګړې د پوښتنو کتابچه چاپ شي، دا پروسه د شفافیت او عدالت د لا ټینګښت سـبب ګرځي. وروسته له چاپ څخه، د پوښتنو صندوقونه د قرنطین په ساحه کې په رسمي ډول مهر او لاک کېږي او تر ځانګړو امنیتي تدابیرو لاندې د ازموینې محلونو ته لېږل کېږي.
د ازموینــو عمومي ادارې ټولې ازموینې د یوه منظم، عصري او خوندي سیستم له لارې ترسره کېږي، چې د هر ګډونوال حق او د ازموینې اعتبار خوندي وساتل شي.
کله چې ازموینه پای ته ورسـېږي، د پوښـتنو او ځواب پاڼو صندوقونه بېرتـه په هماغه محل کې مهر او لاک کېږي او د ازموینو عمومي ادارې د ازموینو کمېټې ته سـپارل کېږي. له دې وروسـته د تصفیې او ارزونې مرحله پیلېږي. په دې پړاو کې ځواب پاڼې له پوښتنپاڼو څخه جلا کېږي او پوښتنپاڼې په خوندي ډول ساتل کېږي.
بیلې شــوې ځواب پاڼې بیا د یوه پرمختللي ماشـین په وسیله، چې د (OMR) په نامه یادېږي، لوسـتل کېږي. دغه سیسـتم د ګډونوالو سم ځوابونه تشخیصوي او د ځانګړو سرورونو له لوري په اتومات ډول نمرې ورکوي، چې د هېڅ ډول انساني لاسوهنې او تېروتنې امکان په کې نه لیدل کېږي.
کله چې پایلې بشپړې او وروستۍ شي، د یوې منظمې او قانوني پروسې له مخې د اعلان لپاره چمتو کېږي او له ګډونوالو سره شریکېږي.
همدارنګـه، د ازموینو عمومي اداره د هرې ازموینې له پای ته رسـېدو وروسـته تر درېوو کاري ورځو پـورې ګډونوالو ته فرصت ورکوي، څو خپل شکایتونه په انلاین بڼه ثبت کړي. ټول ثبت شوي شکایتونه په دقت، شفافیت او مسلکي توګه ارزول کېږي او وروستۍ پرېکړې او پایلې یې د اعلان له لارې له ګډونوالو سره شریکېږي.
د ازموینو عمومي اداره د شـفافیت، عدالت، مسـلکیتوب او عصري ټکنالوژۍ پر بنسټ خپلې ټولې چارې تنظیموي، څو هر ګډونوال وکولای شي په عادلانه، خوندي او باوري چاپېریال کې خپله وړتیا وازمایي او د خپلو هڅو ثمره ترلاسه کړي.

# تربیت اصولی فرزندان زیربنای توسعه و پیشرفت جامعه است

**ادیب اندر**

تربیـت صحیح فرزندان، فرآیند زمان‌بـر، هدفمند و نیازمند همکاری همه‌جانبه اسـت. این روند تنها به آموزش خواندن و نوشـتن محدود نمی‌شود، بلکه شامل پرورش شـخصیت، اخلاق، مسئولیت‌پذیری، مهارت‌هـای اجتماعی، روحیه همکاری، نظـم، خلاقیت و احترام به ارزش‌های انسانی نیز می‌شود. به هر اندازه که این فرآیند با برنامه‌ریزی بهتر و آگاهی بیشتر همراه باشد، نتیجه آن جامعه سالمتر، پیشرفته‌تر و برخوردار از شهروندانی مسئول خواهد بود.
توسـعه، شکوفایی و پیشرفت هر جامعه، بیش از آنکه به منابع طبیعی، امکانات اقتصادی یا فناوری وابسـته باشـد، به کیفیت نیروی انسانی آن بسـتگی دارد. هیچ کشوری بدون داشتن نسل آگاه، مسئولیت‌پذیر، متخصص و متعهد نمی‌تواند به رشـد پایدار دست یابد. از همین رو، سـرمایه‌گذاری روی تربیت و آموزش کودکان، یکی از اساسـی‌ترین وظایف خانواده، نظام آموزشـی و حکومت به شـمار می‌رود. کودکان امروز، مدیران، دانشمندان، داکتران، معلمان، مهندسان، تاجران و رهبران فردای جامعه هسـتند و نوع تربیت آنان، مسیر آینده یک ملت را تعیین می‌کند. نقش خانواده‌ها در تعلیم و تربیه و شکل‌گیری شخصیت فرزندان خانواده از همه برجسـته‌تر و بارزتر است. خانواده نخستین و مهمترین محیط تربیتی هر انسان اسـت. کودک پیش از آنکه وارد مکتب شود، بسـیاری از رفتارها، ارزش‌ها و باورهای خـود را از محیط خانواده فرا می‌گیرد. شیوه برخورد والدین، نحوه گفتگو، احترام متقابل، رعایت نظم، صداقت و مسئولیت‌پذیری، همه یکجا به صورت مستقیم بر شخصیت کودک اثر می‌گذارند.
والدینی که با محبت، احترام و در عین حال با نظم و قاطعیت فرزندان خود را تربیت می‌کنند، زمینه رشد متوازن شخصیت آنان را فراهم می‌سازند. برعکس، بی‌توجهی، خشونت، تبعیض یا افراط در سختگیری و یا آزادی بیش از حد، می‌تواند پیامدهای منفی بر رشد روانی و اجتماعی کودک داشته باشد.
کـودکان بیش از آنکه از سـخنان والدین بیاموزنـد، از رفتار آنان الگو می‌گیرند. اگر والدیـن خود اهل مطالعه، صداقت، احتـرام به قانون، مسئولیت‌پذیری و تلاش باشند، احتمال زیادی وجود دارد که فرزندان نیز همین ویژگی‌ها را در خود پرورش دهند.
امروزه کشورهای پیشـرفته، بیشترین سـرمایه‌گذاری را روی آموزش انجـام می‌دهند؛ زیرا باور دارند که توسـعه واقعی از صنف‌های درس آغاز می‌شـود. متعلمی که امروز مهارت‌های علمی و اخلاقی لازم را فرا می‌گیرد، فردا می‌تواند در رشد اقتصادی، فرهنگی و اجتماعی کشور نقش مؤثری ایفا کند.
آموزش و رشـد فردی کودکان یکی از موضوعات بسـیار مهم و مبرم است و هر خانواده در این قسمت توجه بیشتر می‌نماید که آموزش یکی از مهمترین ابزارهای توسـعه انسانی اسـت. نظام آموزشی تنها وظیفه انتقال معلومات علمی را بر عهده ندارد، بلکه باید مهارت‌های زندگی، تفکر منطقی، حل مسأله، روحیه تحقیق، همکاری، احترام به دیگران و احساس مسئولیت اجتماعی را نیز در دانش‌آموزان تقویت کند.
همچنان متوجه می‌شـویم که تربیت اخلاقی در خانواده و انتقال آن به فرزندان خانواده پایه اساسـی موفقیت در اجتماع است و رساندن آن به متعلمین و کودکان به اندازه علم و دانش ضروری و مبرم اسـت. دانش بدون اخلاق، نه‌تنها مفید نیست بلکه گاهی می‌تواند به زیان جامعه نیز تمام شود. جامعه زمانی به پیشرفت واقعی دست می‌یابد که متخصصان آن علاوه بـر دانش، از وجدان کاری، صداقـت، عدالت، امانتداری و احساس مسئولیت نیز برخوردار باشند.
تربیت اخلاقی باید از سـال‌های نخسـت زندگی آغاز شود. آموزش راسـتگویی، احترام به بزرگترها، کمک به نیازمنـدان، رعایت حقوق دیگران، انصاف، گذشت، نظم و مسئولیت‌پذیری از مهمترین اصولیست که شخصیت سالم را شکل می‌دهد.
کودکی که از همان ابتداء ارزش‌های اخلاقی را می‌آموزد، در آینده نیز در محیط کار، اجتماع و خانواده فرد قابل اعتماد خواهد بود. چنین افرادی سرمایه‌های واقعی هر جامعه محسوب می‌شوند.
نمی‌توان از نقشی که معلمان در تربیت و ساختن آینده کودکان ما دارند چشم‌پوشی کنیم که معلمان پس از والدین، مهمترین نقش را در تربیت نسل آینده دارند. آنان تنها انتقال‌دهنده معلومات نیستند، بلکه الگوهای رفتاری و شخصیتی متعلمان نیز به شمار می‌روند. رفتار، عدالت، صبر، شـیوه تدریس و برخورد انسـانی معلم، تأثیر عمیقی بر رشد فکری و اخلاقی شاگردان دارد. یک معلم موفق تلاش می‌کند تا علاوه بر آموزش کتاب‌های درسـی، روحیه پرسشـگری، خلاقیت، اعتماد به نفس و همکاری را در متعلمین تقویت کند. همچنین باید محیطی ایجاد شود که کودکان بدون ترس بتوانند پرسش کنند، ایده‌های خود را بیان نمایند و استعدادهای شان را شکوفا سازند. در اصل سرمایه‌گذاری بر آموزش و ارتقای توانایی معلمان، در حقیقت سرمایه‌گذاری بر آینده کشور است.
در کنار تعلیـم و تربیه و درس اخلاق، آمـوزش مهارت‌ها در کودکان ضروری و مهم اسـت. دنیای امروز تنها به مدرک تحصیلی نیاز ندارد؛ بلکه مهارت‌های عملی نیز اهمیت فراوان یافته‌اند. آموزش مهارت‌هایی مانند اسـتفاده از فناوری، مدیریت زمان، کار گروهـی، ارتباط مؤثر، زبان‌هـای خارجی، تفکر انتقادی و کارآفرینی، زمینه موفقیت بیشـتر جوانان را فراهم می‌کند.
کودکانی که از سـنین پایین فرصت تجربه، تحقیق، آزمایش و یادگیری مهارت‌های مختلف را پیدا می‌کنند، در آینده توانایی بیشتری برای حل مشکلات زندگی خواهند داشت. همچنین آموزش‌های فنی و حرفه‌ای می‌تواند زمینه اشتغال و خودکفایی اقتصادی را نیز فراهم سازد.
پیشرفت فناوری فرصت‌های بی‌نظیری برای یادگیری ایجاد کرده است. انترنیت، کتابخانه‌های دیجیتل، دوره‌های آموزشی آنلاین و نرم‌افزارهای آموزشـی می‌توانند فرآیند یادگیری را بسیار مؤثرتر کنند. اما در کنار این فرصت‌ها، تهدیدهایی نیز وجود دارد.
اسـتفاده بی‌رویه از تیلفـون همراه، بازی‌های کمپیوتری، شـبکه‌های اجتماعی و محتوای نامناسـب ممکن است باعث کاهش تمرکز، افت تحصیلی و آسـیب‌های اجتماعی شـود. از این رو، والدین و معلمان باید نحوه اسـتفاده صحیح از فناوری را به کودکان آموزش دهند و میان آموزش، تفریح و فعالیت‌های اجتماعی تعادل برقرار سازند.
آینده هر کشور در دستان کودکانیسـت که امروز در خانه‌ها و مکاتب تربیت می‌شـوند. توسـعه و پیشـرفت پایـدار، بدون تربیت نسـل آگاه، متخصـص، اخلاق‌مدار و مسـئولیت‌پذیر امکان‌پذیر نیسـت. خانـواده، مکتـب، جامعه و حکومـت، هر یک مسـئولیت مهم در این مسـیر بر عهده دارند و تنها از طریق همـکاری و هماهنگی میان ایـن نهادها می‌تـوان زمینه پرورش نسـل توانمند و اثرگـذار را فراهم ساخت.

## عدالت د هر نظام د بقا بنسټ او فساد یې ...

پـه همدې لړ کې د هر مسـئول ونډه ځانګـړې اهمیت لري. هغه چا ته چې د خلکو د خدمت مسـئولیت ورسپارل شوی، باید خپل مقام د امتیاز وسـیله ونه ګڼي، بلکې د امانت په سترګه ورته وګوري. رښتینولي، شـفافیت، عدالت او د قانون رعایت هغه مهم ارزښتونه دي چې د یوه سالم اداري نظام څېره خپل ولس ته ښکاره کوي.
د ولس مسـئولیت هم کم نه دی. که هر وګړی پـه خپل کار، راکړه ورکړه، قضاوت او ټولنیز چلند کې د حق او انصاف لاره خپله کړي، د فسـاد لپاره به د ودې زمینه تنګه شي. عدالت خو یوازې د محکمو پـه پرېکړو نه شـي تأمینېدلی، بلکې د ټولنې لـه اخلاقي فرهنګ، د خلکو له وجدان او د مسـئولینو له عملـي چلند څخه ځواک او سرچینه اخلي.
افغانستان نن د داسې پړاو پر درشل ولاړ دی چې د ثبات، اقتصادي ودې او نړیـوال تعامل لپاره پیاوړې او بـاوري ادارې ته اړتیا لري. د دې هدف ترلاسه کول هغه وخت اسانه کېږي چې د قانون حاکمیت خونـدي وي، عامه شـتمني امانت وګڼل شـي او هېڅوک ځان له حساب او مسئولیته پورته ونه بولي.
عدالت د نظام د بقا ریښـه ده؛ ریښه چې پیاوړې وي، ونه یې هم د زمانې د سختو بادونو پر وړاندې ولاړه پاتې کېږي. فساد بیا د همدې ونې د بېخ خوړونکی چینجی دی چې که مخه یې ونه نیول شـي، د کمزورۍ او زوال لامل ګرځي. له همدې کبله، د عدالت سـاتنه او د فسـاد پر وړاندې ټینګ دربځ د اداري اړتیا ترڅنګ، زموږ ملي او اسـلامي مسئولیت دی چې د هېواد د ثبات، د ولس د هوساینې او د راتلونکو نسلونو د روښانه راتلونکي ضمانت کوي.

# افغان اعلانات

### اطللاعیه محکمه

حسب هدایت قرار قضایی شماره ۲۱ مورخ ۱۴۰۰/۱/۳۱ ریاست محترم محکمه دیوان رسیدگی به قضایای مالیاتی وبانکی ولایت کابل هییات محترم تطبیق حکم یک دربند حویلی به مساحت مجموعی ۴۸۴ مترمربه مندرج قباله شرعی شماره ۸۰۵ بر ۸۲ مورخ۲/۷/ ۱۳۶۹ ملکیت محمد عارف فرزند محمد عظیم واقع سرک پانزدهم وزیر محمد اکبر خان که در بدل قرضه تحت تضمین بانک بین المللی افغانستان قرار دارد را از طریق داوطلبی و مزایده بفروش میرساند افراد حقیقی وحکمی که خواهان خریداری جایداد ذکر شده فوق باشند میتوانند درخواستی خویش را الی ده یوم بعد از نشر این اعلان به ریاست محترم حقوق ولایت کابل ویاهم دفتر مرکزی بانک بین المللی افغانستان واقع سرک میدان هوایی کابل بی بی مهرو سپرده وشرطنامه را اخذ نمایند.۳۴۶۳

***

### اطلاعیه مفقودی کارت هویت

یک قطعه کارت هویت وکالت دفاع شماره ۳۲۸۳مورخ ۱۲/۳۰/ ۱۴۴۶ متعلق به جناب وکیل محترم فرید احمد مظلومیار ولد شاه محمد مفقودگردیده از اعتبار ساقط است.۳۴۸۱

***

### اطلاعیه مفقودی
### دونقل سته فروش رهنمای معاملات

به تعداد دونقل معامله فروشی دارنده سریال نمبر ۱۵۹۷۵۲-۳۰۹۶۹۲ ازرهنمای معاملات شعیب امیری به اسم شعیب الرحمن ولد محمد نعیم دارنده جواز نمبر ۵۲۱۶ واقع سرک حوزه یازدهم شهر کابل متذکره فاقد اعتبار بوده است.۳۴۸۳

***

### اطلاعیه اجاره دهی

موضوع:اعلان به اجاره دهی موازی ۱۰۰۰ جریب زمین امارتی ساحه الغویی ولسوالی شکردره ولایت کابل.

مدیریت عمومی انکشاف زمین آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی ولایت کابل تا زمین امارتی ذیل را از طریق داوطلبی به اجاره میدهند.

بدین وسیله از تمام داوطلبان و شرکت های محترم که دارای اهلیت حقوقی ،توانمندی مسلکی وتخنیکی،منابع مالی، تجهیزات لازم و کارکنان فنی بوده و همچنان دارای تجربه مرتبط در زراعتی و باغداری می باشند تقاضا به عمل می آید تا الی ۱۰ روز از تاریخ نشر این اعلان درخواستهای خویش را به مدیریت عمومی انکشاف زمین، آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی کابل تسلیم نمایند

موضوع عبارت از:

۱-موازی (۱۰۰۰) جریب زمین امارتی واقع ساحه الغوی ولسوالی شکردره دارای کوردینات نمبر (x: ٦٩,١٣٩٣٣٤ y:٣٤,٦١٥٥٥٦) بمنظور (زراعتی و باغداری) که سالانه فی جریب زمین به مبلغ ۱۰۰۰یک هزار افغانی مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های امارتی ، به اشخاص حقیقی و حکمی به اجاره داده می شود

نوت: فورمه های مربوط به اجاره دهی همراه با شرطنامه از آمریت تخنیکی زمینداری این ریاست قابل دریافت می باشد مجلس مزایده در حضور داوطلبان واجد شرایط مطابق زمان بندی تعیین شده از سوی ریاست اراضی کابل تدویر می گردد که جزییات آن متعاقبا به اطلاع داوطلبان رسانیده خواهد شد اسناد ناوقت رسیده بعد از میعاد تعیین شده پذیرفته نخواهد شد.۳۴۹۱

***

### اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی ناحیه ۱۳ برچی به اسم محمد علی ولد خادم حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۵۰۱

***

### اعلان مفقودی

یک قطعه جواز بزازی مربوط ناحیه اول که از سال ۱۴۰۴ به اسم احمد الله ولد امین الله مفقو د گردیده از اعتبار ساقط است.۳۴۹۷

***

### اعلان مفقودی

یک قطعه جواز تشبث شرکت ساختمانی وانجینیری تارگیت جینریشن نمبر D-40026 به اسم بسم الله ولد شاه نظر مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۴۶۸

***

### موضوع: اعلان مجدد داوطلبی

نام پروژه: اعمار و نصب ترازو تناژ بلند ریاست معادن ولایت غزنی نمبر تشخیصیه پروژه: MOMP-W-09-NCB-1405

ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه نامبرده اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را از آمریت تدارکات ساختمانی الی روز سه شنبه تاریخ ۳۰/ سرطان/۱٤۰٥ اخذ و آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه طبق قانون و طرزالعمل تدارکات، خانه پری و در جلسه روز آفرگشایی ارایه نمایند.

روز آفرگشایی چهارشنبه ۳۱/ سرطان/ ۱٤۰٥ ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر می باشد.

جلسه آفرگشایی در ریاست تدارکات وزارت معادن و پترولیم واقع ناحیه نهم، چهارراهی مکروریان، جوار مسلخ دایر میگردد.

### موضوع: نشر اعلان پروژه تهیه و تدارک کمپیوترباب مورد نیاز سال مالی ١٤٠٥

شماره دعوتنامه داوطلبی :( )-ASA /1405/NCB/G اداره اکادمی علوم امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید، تا در پروسه پروژه تهیه و تدارک کمپیوترباب مورد نیاز سال مالی ١٤٠٥ اشتراک نموده وسافت شرطنامه مربوط را از طریق سایت تدارکات الکترونیکی ا.ا.ا. به دست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر بتاریخ ۱/ اسد/ ١٤٠٥ به آمریت تدارکات اکادمی علوم واقع شهرنو سرک شاه بوبوجان، شهر کابل، افغانستان ارایه نماید.آفر های نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. تضمین آفر به شکل تضمین بانکی مبلغ ٦٠٠٠٠ شصت هزار افغانی و جلسه آفر گشایی به ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر به تاریخ متذکره در شعبه ریاست روابط فرهنگی اکادمی علوم افغانستان تدویر میگردد.

| شماره | معیارات ارزیابی | |
|---|---|---|
| ۱ | حجم معاملات | قابل تطبیق نیست |
| ۲ | تجربه مشابه | قابل تطبیق نیست |
| ۳ | سرمایه نقدی | مبلغ : ۴۰۰۰۰۰ چهار صد هزار افغانی. |
| ۴ | تضمین آفر | مبلغ : ۶۰۰۰۰ شصت هزار هزار افغانی |

٣٥٤٢

### موضوع :نشر اعلان پروژه تهیه و تدارک سایه بان ها مورد نیاز سال مالی ١٤٠٥

شماره دعوتنامه داوطلبی :( )-ASA /1405/NCB/G

اداره اکادمی علوم امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید، تا در پروسه پروژه تهیه و تدارک سایه بان ها موردنیاز سال مالی ١٤٠٥ اشتراک نموده وسافت شرطنامه مربوط را از طریق سایت تدارکات الکترونیکی ا.ا.ا. به دست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر بتاریخ ۱/ اسد /١٤٠٥به آمریت تدارکات اکادمی علوم واقع شهرنو سرک شاه بوبوجان، شهر کابل، افغانستان ارایه نماید.آفر های نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر به شکل تضمین بانکی مبلغ ٦٠٠٠٠ شش صد هزار افغانی و جلسه آفر گشایی به ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر به تاریخ متذکره در شعبه ریاست روابط فرهنگی اکادمی علوم افغانستان تدویر میگردد.

| شماره | معیارات ارزیابی | |
|---|---|---|
| ۱ | حجم معاملات | قابل تطبیق نیست |
| ۲ | تجربه مشابه | قابل تطبیق نیست |
| ۳ | سرمایه نقدی | مبلغ : ۳۶۰۰۰۰ سه صدو شصت هزار افغانی. |
| ۴ | تضمین آفر | مبلغ : ۶۰۰۰۰ شصت هزار هزار افغانی |

٣٥٤١

## وزیر تحصیلات عالی در مورد حل مشکلات ...

مسئولان یاد شده گفت که حقوق یکدیگر خود را ادا و برای پیشرفت و گسترش نظام تحصیلی به گونه مشترک کار خواهیم کرد. سپس مسئولان اتحادیه پوهنتون های خصوصی و نمایندگان پوهنتون های یاد شده، مشکلات و پیشنهادات خویش را در بخش های تقرر استادان، ایجاد برنامه ها و مراحل تضمین کیفیت شریک نمودند، که از سوی وزیر تحصیلات عالی در قسمت حل مشکلات یاد شده اطمینان داده شد.

## سږ کال کرنیزه ځمکه له درې میلیونه ...

مهم لامل سړنې پراخ اورښتونه او د سیندونو د اوبو د کچې لوړېدل بلل شوي دي. د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د کال په لومړیو میاشتو کې سختو اورښتونو د کروندګرو هیلې د ښه حاصل او ابادۍ لپاره زیاتې کړې دي. که څه هم یادو اورښتونو په ځینو سیمو کې خلکو ته ځاني او مالي زیانونه هم اړولي، خو کروندګرو یې د کرنې د ودې او د ښه کرنیز کال لپاره مهم ګڼلي دي.

## د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم له مخې ...

سکټور د سیستمونو پر ډیجیټلي کېدو ټینګار کړی او ویلي یې دي، چې دا چاره د مالیاتي نظام د اغېزمنتیا او روڼتیا لپاره مهمه ده. د مالیې وزیر ملا محمد ناصر اخوند ویلي: د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو راهیسې په ۱۳ برخو کې مالیاتي تخفیفونه عملي شوي او دا لړۍ به دوام ولري. نوموړي ویلیک د مالیاتي تخفیفونو موخه د اقتصادي لومړیتوبونو ملاتړ، د پانګونې هڅول، د تولید او صادراتو زیاتوالی، د کار موندنې د فرصتونو رامنځته کول او د خصوصي سکټور لپاره د مناسب چاپېریال برابرول دي. ده ټینګار کړی،: اغېزناک مالیاتي نظام باید د عدالت، شفافیت، حساب ورکونې او قانونیت پر بنسټ وي او د مالیې وزارت به د عوایدو د راټولولو، د عامه مالي سرچینو د اغېزناک مدیریت او اقتصادي ثبات تر څنګ د پانګونې د ودې لپاره مناسبې پالیسۍ پلې کړي. ملا محمد ناصر اخوند هېوادوالو ته ډاډ ورکړی، چې د خلکو مالیات به په خپلو ځایونو کې ولګول شي او که له کوم سوداګر یا وګړي اضافي مالیه اخیستل شوې وي، د دوی د حقونو د ساتنې مسئولیت پر غاړه اخلي. د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي ویلي: د مالیاتو کمښت د عوایدو د زیاتوالي، د پانګونې د هڅونې او اقتصادي ودې سبب شوی او له کورنیو او بهرنیو پانګوالو یې غوښتي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. د چارو اداري لوی رئیس شیخ نورالحق انور ویلي: مالیه د حکومتونو د ثبات او پر مختګ مهم بنسټ دی او د مالیاتو راټولول د حکومت او خلکو ګډ مسئولیت دی. نوموړي د مالیاتي سیستمونو د لا پیاوړتیا، روڼتیا او اغېزمنتیا پر دوام ټینګار کړی دی. د سوداګرۍ او پانګونې خونې رئیس سیدکریم هاشمي ویلي: د مالیاتو کمښت نه یوازې د سوداګرو، بلکې د ملي اقتصاد او عامه هوساینې لپاره هم ګټور دی او د پانګوالو باور زیاتوي. نوموړي د مالیاتي تخفیفونو وروستی اقدام د سوداګرۍ د پیاوړتیا لپاره مثبت ګام بللی او له خلکو یې غوښتي چې خپل مالیات پر وخت ورکړي.

## کابل او بیجینګ د رسنیو په ډګر ...

حافظ ضیاء احمد تکل په یادو کتنو کې ویلي: افغانستان او چین د ښه ګاونډیتوب، متقابل احترام او ګډو ګټو پر بنسټ تاریخي اړیکې لري. نوموړي د دواړو هېوادونو د رسنیو ترمنځ د ګډو پروګرامونو، مسلکي روزنو، د تګ راتګ، رسنیزو همکاریو او مستقیمو اړیکو پر پراختیا ټینګار کړی دی. ورته مهال چینایي لوري هم رسنۍ د دواړو هېوادونو د ولسونو ترمنځ د متقابل پوهاوي، دوستۍ او باور د پیاوړتیا مهم پُل بللی او د افغان او چینایي خبریالانو د متقابلو سفرونو او رسنیزو همکاریو د پراختیا هرکلی یې کړی دی. د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم یو شمېر افغان خبریالانو او د رسنیو استازو چین ته سفر کړی و.

## اسلامي امارت د کانکور او دیني مدارسو لس ...

کړي. نوموړي زیاته کړې: د لوړو زده کړو وزارت به د محصلانو ستونزو ته پر وخت رسېدنه وکړي. ده لسو مخکښو بریالیو ته مبارکي وویله او د الله تعالی له درباره یې ورته د لا ډېرو بریاوو دعا وکړه. نوموړي هیله څرګنده کړه، چې دغه ځوانان د هېواد د ابادۍ لپاره کار وکړي او د خپلې پوهې پر مټ افغانستان د پرمختګ پر لور بوزي. مولوي عبدالسلام حنفي له ځوانانو وغوښتل، چې خپل وخت بې ځایه ضایع نه کړي، زده کړو ته دوام ورکړي او د هېواد په بېلابېلو برخو کې خپله ورځنیا وښیي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزیرشیخ شېر احمد حقاني ویلي، چې اسلامي امارت په بېلابېلو برخو کې د هېوادوالو لپاره د زده کړو زمینه برابره کړې او د مسئولینو د هڅو له برکته دا ډول مراسم د امن او ارامۍ په فضا کې ترسره کېږي. ده زیاته کړې: اسلامي امارت له بیا واکمنېدو را وروسته د تعلیم، بیارغونې او اقتصادي پروژو په ګډون په بېلابېلو برخو کې د پرمختګ پر لور روان دی. نوموړي ځوانانو ته د مبارکۍ ترڅنګ سپارښتنه وکړه، چې د اسلام او هېواد خدمت وکړي، له تعصب او قومپرستۍ څخه ځان وساتي، پراخ فکر ولري او د هېواد د پرمختګ لپاره هڅې وکړي. ده د ازموینو ملي اداره یوه شفافه اداره وبلله او ویې ویل: په ازموینو کې د هېچا حق نه ضایع کېږي، ځکه د یوه غریب زوی د هېواد عمومي اول نمره شوی دی. د ازموینو ملي اداري لوی رئیس شیخ عبدالباقي حقاني وویل چې پخوا د کانکور په بهیر کې ګڼې ستونزې موجودې وې، خو د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته دغه بهیر معیاري شوی او د خلکو باور پرې زیات شوی دی. ده زیاته کړه: هېوادوالو ته ډاډ ورکوم، چې د هېچا حق نه ضایع کېږي او حق خپل حقدار ته سپارل کېږي. د نوموړي په وینا، د ولسونو د هیلو سترګې همدغو ځوانانو ته دي او د هېواد راتلونکی به همدوی جوړوي. ده ټینګار وکړ، چې اسلامي امارت د دیني او عصري علومو زده کړو ته ژمن دی، ترڅو افغانستان د نړۍ له هېوادونو سره سیال شي. د ۱۴۰۵ کال د عمومي کانکور په پایلو کې د پروان ولایت اوسېدونکی راشد، د پهلوان زوی، د ۳۶۰ نمرو په ترلاسه کولو لومړی مقام خپل کړ. د کونړ ولایت اوسېدونکی انعام‌الله، د شېرزمان زوی، د ۳۵۸ نمرو په ترلاسه کولو دویم او د پکتیا ولایت اوسېدونکي عبدالهادي، د عبدالرحمن زوی، د ۳۵۶ نمرو په ترلاسه کولو دریم مقام وګاټه. همدارنګه د میدان وردګو ولایت اوسېدونکي محمدامین، د محمد بشیر زوی، څلورم او بسم‌الله جان، د محمد عمر زوی، پنځم مقام ترلاسه کړ. د دیني مدارسو د ازموینې په پایلو کې د غور ولایت اوسېدونکي عبدالمجید، د عبدالعزیز زوی، د ۳۲۷ نمرو په ترلاسه کولو لومړی، د بدخشان ولایت اوسېدونکي خالد، د قیمت‌الله زوی، د ۳۲۰ نمرو په ترلاسه کولو دویم، د لغمان ولایت اوسېدونکي حامد، د عبدالصمد زوی، د ۳۱۹ نمرو په ترلاسه کولو دریم، د غور ولایت اوسېدونکي امان‌الله، د شېراقا زوی، د ۳۱۸ نمرو په ترلاسه کولو څلورم او د هرات ولایت اوسېدونکي حامد، د محمد انور زوی، د ۳۱۷ نمرو په ترلاسه کولو پنځم مقام خپل کړ. د سږ کال د عمومي کانکور عمومي اول نمره راشد وویل: خپلو زده کړو ته به دوام ورکړم او په راتلونکي کې به د خپل هېواد او ولس د خدمت لپاره کار وکړم.

**سمیع الله مومند**

## افغاني غالۍ د نړۍ ۳۸ هېوادونو ته ...

لاملونه دي او ډېرې یې ترکیې، اروپایي او عربي هېوادونو، امریکا او کاناډا ته صادرېږي. د افغاني غالیو د تولیدوونکې او صادروونکې ټولنې مسئولینو همدا راز ویلي چې اوسمهال افغانۍ غالۍ په نړیوالو بازارونو کې د خپل لوړ کیفیت له امله مشهورې شوې دي. د یادونې وړ ده، چې افغاني غالۍ د افغان ولس د فرهنګي هویت ښکارندویي کوي، چې له طبیعي رنګونو، وړیو او کلتوري نښو څخه جوړېږي. د افغاني غالیو هر تار د تاریخ یوه برخه او هر رنګ یې د احساساتو یو ژور پیغام لېږدوي.

## هلمند کې د خوارځواکو ماشومانو ...

همکاریو او ملاتړ څخه ځانګړې مننه کوي، چې د روغتیایي خدمتونو د پراختیا، د مور او ماشوم د روغتیا د پیاوړتیا او د خوارځواکۍ د مخنیوي په برخه کې یې ارزښتناک رول لوبولی دی، همدا راز له نړیوالو همکارو او داخلي مؤسسو سره په ګډه کار کوي، تر څو د باکیفیته او معیاري خدماتو لپاره معیاري روغتیایي مراکز جوړ کړي. د یادو روغتیایي ځانګو د جوړونې موخه له خوارځواکۍ سره د مخ ماشومانو لپاره د معیاري درملنې، پاملرنې او روغتیایي خدمتونو برابرول دي. د دغو ځانګو په فعالېدو سره به د سیمې اوسېدونکي وکولای شي خپلو ماشومانو ته په نږدې روغتیایي مرکزونو کې د خوارځواکۍ د تشخیص، درملنې او تعقیبي خدماتو څخه ګټه واخلي. د یادونې وړ ده، چې یاد ریاست د تل په څېر ژمن دی ترڅو د همکارو بنسټونو په مرسته د هلمند په ټولو سیمو کې د معیاري روغتیایي خدمتونو د پراختیا او د روغتیایي وضعیت د لا ښه والي لپاره خپلې هڅې لا ګړندۍ کړي.

## د کابل والي د یوناما له مسئولې ...

ټینګار کړی چې د خلکو د بنسټیزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د یوناما، اړوندو سکټوري ادارو او ولایتي اداري ترمنځ اغېزمنې همغږۍ او همکارۍ ته اړتیا ده، څو خلکو ته خدمتونه په عادلانه، اغېزمنه او رڼه ډول وړاندې شي. د کابل ولایت د مقام د خبرپاڼې له مخې، تابیتا بوګوا هم ډاډ ورکړی چې یوناما به خپلې همکارۍ د خلکو د واقعي اړتیاوو پر بنسټ دوامدارې وساتي. دې ویلي چې د کابل ولایت د مقام او د کابل د اوسېدونکو غوښتنې او اړتیاوې به د دغه سازمان له لورې پورو چارواکو سره شریکې کړي او د روڼتیا اصل او د مستحقو کسانو ملاتړ به د خپلو فعالیتونو اساسي محور وګرځوي.

## پکتیکا کې د ګرځندوی د ودې لپاره ...

د فرهنګ او ګرځندوی آمر له ملي پانګوالو څخه وغوښتل، چې د دغه ولایت په مختلفو مشهورو سیاحتي سیمو کې پانګونه وکړي، ترڅو د ګرځندوی سکتور لاپیاوړی او خلکو ته بېلابېلو برخو کې کاري زمینه برابره شي. د مسئولینو په وینا، د یاد ولایت له مشهورو سیاحتي سیمو څخه د پلتوني بند او د ګیان، زېروک، سروبي او ارګون ولسوالیو بېلابېلې سیمې ګڼل کېږي.

## د پروان- کوه صافي سړک د لومړي لاټ ...

د کار په جریان کې د سیمې یو شمېر اوسېدونکو ته هم د کار زمینه برابره شوې ده او په بشپړېدو سره به یې د سوداګریزو توکو او کرنیزو محصولاتو د لېږد رالېږد او د خلکو د تګ راتګ ستونزې تر ډېره حده هوارې شي. د یادولو وړ ده، چې دا مهال د هېواد په ډېرو سیمو کې د سړکونو جوړولو پروژې پیل شوي چې د ځینو کارونه یې بشپړېدو ته نږدې شوي دي. بله خوا یو شمېر هېوادوال د دغو پروژو چارو ته خوښ دي او په هېواد کې د نورو دا ډول پروژو د پلې کېدو غوښتنه کوي.

## د هرات او خراسان رضوي والیانو د سوداګرۍ ...

خبرو کې دواړو لوریو د توکو د لېږد رالېږد په بهیر کې د اسانتیاوو پر زیاتوالي، د سوداګریزو لارو د ټرانزیټي ستونزو پر هواري او د سرحد د دواړو غاړو د اړوندو ادارو ترمنځ پر لا زیاتې همغږۍ ټینګار کړی. دغه‌راز یاد دفتر زیاته کړې: د هرات والي ویلي، چې اسلامي امارت د ایران سوداګرو او موټرچلوونکو ته اړینې اسانتیاوې برابرې کړې دي او زیاته کړې یې ده، چې ایران هم باید افغان موټرچلوونکو ته ورته اسانتیاوې برابرې کړي. نوموړي د ټرانسپورټي خنډونو د لا زیاتو لرې کولو او د دواړو غاړو ترمنځ د بار وړونکو موټرو د تګ راتګ بهیر د چټکتیا غوښتنه کړې ده. ورته مهال د خراسان رضوي والي د دوغارون او اسلام‌کلا له لارې د ټرانزیټي اړیکو د پیاوړتیا او د سوداګرۍ بهیر د ښه‌والي لپاره د ګډې همکارۍ ډاډ ورکړی دی. د یادونې وړ ده، چې په دې وروستیو کې اسلامي امارت د ایران د موټرچلوونکو لپاره ویزه او ردوپاس لغوه کړې، د سرحد د دې غاړې شته خنډونه یې لرې کړي او اړینې اسانتیاوې یې برابرې کړې دي. د هرات ولایت د مقام د رسنیز دفتر په وینا؛ همداراز هڅې روانې دي، څو د سرحد هغې غاړې ته هم دغه خنډونه لرې شي، ترڅو د اسلامي امارت او ایران ترمنځ سوداګریزې او ټرانزیټي اړیکې لا پیاوړې شي.

## هند یک هزار بورسیه تحصیلی ...

سال روان می‌باشد. براساس بیانیه، این بورسیه‌ها برای تحصیل در دوره‌های آنلاین سطح لیسانس و ماستری در پوهنتون‌ها و مؤسسات منتخب هند ارایه می‌شود. به گفته برگزارکننده‌گان، این بورسیه‌ها شامل پرداخت کامل هزینه‌های تحصیلی، هزینهٔ ثبت‌نام، امتحانات و صدور سند فراغت است و محصلین به‌صورت آنلاین به منابع آموزشی، ویدیوهای درسی و امتحانات دسترسی خواهند داشت.

# Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com :ویب سایت

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئيس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: بصیر احمد امیري / ۰۷۹۲۶۰۹۰۶۲
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Monday 13 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1105


# افغانستان و چین بر گسترش تجارت و سرمایه‌گذاری مشترک تأکید کردند

هیئـت رهبـری اتـاق تجـارت و سـرمایه‌گذاری افغانسـتان، بـا معـاون شـورای توسـعه تجـارت بین‌المللـی چیـن، دیـدار و درباره راه‌های گسـترش تجارت دوجانبه، افزایـش سـرمایه‌گذاری و توسـعه همکاری‌های صنعتـی میان کابل و بیجنـگ گفتگو کرد. اتـاق تجارت وسرمایه گذاری افغانستان، با پخش خبرنامه‌یی می‌گوید که دراین دیدار، دو طـرف بـر تقویت روابـط میان بخش‌هـای خصوصی افغانسـتان و چیـن، فراهم‌سـازی زمینه‌هـای بیشتر برای سـرمایه‌گذاری مشترک و توسـعه همکاری‌هـای اقتصادی و صنعتی تأکید کردنـد. همچنین، طرفین حمایت خود را از گسـترش تعاملات تجاری، ایجاد فرصت‌های جدیـد سـرمایه‌گذاری و تحکیـم همکاری‌های مشـترک میـان تجار و سـرمایه گذاران دو کشـور اعلام کردند. هیئت رهبـری اتاق تجارت وسـرمایه گذاری افغانسـتان، برای گفتگـو با مقامـات چینـی، درباره گسترش روابط تجاری وصنعتی، به آن کشورسفرکرده است.

## د هرات او خراسان رضوي واليانو د سوداګرۍ او ټرانزيټ پر پراختيا خبرې وکړې

د هرات والي شیخ مولانا اسلام‌جار، د ایران د خراسان رضوي له والي سره د سـوداګرۍ او ټرانزیټ د پیاوړتیا او د دوغارون او اسلام‌کلا په سرحدي لارو کې د لا زیاتو اسانتیاوو رامنځته کولو په موخـه ټیلفوني خبرې کړې دي. د هـرات ولایت د مقام رسـنيز دفتر وايي: په دې ټیلفوني ... **۳مخ**

... ۳مخ

## هند یک هزار بورسیه تحصیلی برای جوانان افغان اختصاص داد

دولـت هند از طریق شـورای روابط فرهنگی هند (آی‌سی‌سـی‌آر) اعلام کرده‌اسـت که برای سـال تحصیلی ۲۰۲۶-۲۰۲۷، یـک هزار بورسـیهٔ تحصیلـی آنلایـن را بـرای جوانان افغان فراهم می‌کند. شـورای روابط فرهنگی هند (آی‌سی‌سـی‌آر) با نشر بیانیه‌ای گفته‌است که این بورسیه‌ها در چارچوب پروژهٔ e-VidyaBharati و از طریق پورتال e-VB i-Learn ارایه می‌شود و متقاضیان می‌توانند به صورت آنلاین در رشته‌های مدیریت، تجارت، کمپیوترساینس، هنر و سایر رشـته‌ها در پوهنتون‌های معتبر هند ادامهٔ تحصیل دهنـد. طبق بیانیه، از ۱۵ جـولای ۲۰۲۶ بـرای یک هزار تن از اتباع افغانسـتان بورسـیه‌های الکترونیکی تحصیلی فراهم می‌کند. در بیانیه آمده‌است که تاریخ پذیرش درخواست‌ها تا ۲۴ جولای... **ص۳**

## ترکي پانګوال غواړي د انرژۍ او ساختماني برخو کې پانګونې وکړي

د ترکیې «ترکش او ډاینک» مسئولینو د اسلامي امارت د دولتي شرکتونو د لوی ریاست د دفتر له رئیس، مولوي سعیدالرحمن مظهري سره په کتنه کې د ګډو همکاریو پـر فرصتونو خبرې کړې دي. د خبرپاڼې له مخې، په دې کتنه کې د یاد ترکي شرکت مسئولینو په افغانستان کې د روغتیا، ساختماني چارو او انرژۍ په برخو کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده. بله خوا د دولتي شرکتونو لوی ریاسـت د دفتر رئیس ویلي: «افغانسـتان او ترکیه د دیني، تاریخي او کلتوري مشترکاتو له مخې نږدې اړیکې لري او دا ګډ ارزښـتونه د اقتصادي همکاریـو د پراختیا لپاره مناسب بنسټ برابروي.» د نوموړي په وینا د دولتي شرکتونو په چوکاټ کې د پانګونې ګڼ فرصتونه شـته او دوی په اړوندو برخو کې د هر راز پانګونې لپاره د زمینـې برابرولو ته چمتو دي. د یادولـو وړ ده، چې په دې کتنه کې همداراز دواړو لوریو د ګډو همکاریو د پراختیا، د پانګونې فرصتونو د ارزونې او د اړیکو د لا پیاوړتیا پر دوام ټینګار کړی دی.

## وزیر تحصیلات عالی در مورد حل مشکلات پوهنتون‌های خصوصی اطمینان داد

شیخ الحدیث مولوی نداء محمد ندیم وزیر تحصیلات عالی، طی نشستی در حالی که شیخ ضیاء الرحمن مدنی معین علمی و شـماری از رئیسـان ریاسـت های مرکزی این وزارت نیز حضور داشتند، با مسئولان پوهنتون های خصوصی دیدار کرد. در نشسـت یاد شده شـیخ صاحب گفـت: کـه در نظام اسـلامی عدالـت و شـفافیت وجود دارد، در آن مـال، عـزت و حقـوق مسـلمانان محفـوظ می باشـد و به مسـئولان پوهنتون های خصوصی گفت که می توانید مشکلات و پیشنهادات خویش را به شـکل آزاد مطـرح کنید تا به آن رسیدگی صورت گیرد. همچنان وزیر تحصیلات عالی به ... **ص۳**

## پنجشېر کې دوو سوداګرو ۳۴ میلیونه افغانۍ پانګونه وکړه

پـه پنجشـېر ولایت کـې د دوو سـوداګرو له لـوري ۳۴ میلیونه افغانۍ پانګونه شـوې. د پنجشېر د والـي ویاند سـیف الدین لټون ویلـي چـې د خالـد فرهمند او امیرمحمد پـه نومونو دوو تنو تازه د یـاد ولایـت په عنابې او شـتل ولسـوالیو کې د تولید په برخه کې پانګونـه کړې ده. د یـاد ولایت د صنعت او سـوداګرۍ رئیس امین الحـق ماثوري ویلي چـې د ا.ا د تګلارې له مخـې دواړو پانګوالو ته یوه یوه اندازه ځمکه چې ټولټال ۶جریبه کېږي ووېشل شوه. له دې وړاندې د ریاست الوزراء اقتصادي مرسـتیال د یوې غونډې پر مهال ویلي و، چې د اسلامي امارت له لـوري د پانګوالو ملاتړ په موخه ګنې اسـانتیاوې په نظـر کې نیول شوي او مسئولین هڅه کوي، چې پر وخت یې سـتونزو ته رسـېدنه وکړي.

## سږ کال کرنیزه ځمکه له درې میلیونه هکټارو اوښتې

د احصایې او معلوماتو عمومي اداري خبر ورکړی، چې سـږ کال د هېواد ټوله کرنیزه ځمکه څـه باندې درې میلیونه هکټاره ثبت شـوې ده. د یادې ادارې د خبرپاڼې له مخې، د «ریموټ‌سنسنګ» ټکنالوژۍ او سـپوږمکیزو انځورونو د تحلیل او ارزونې پر بنسـټ په ۱۴۰۵ کال کې د هېواد د اوبیزو او للمي کرنیزو ځمکو تر کښـت لاندې سیمې تثبیت شـوې دي. د احصایـې او معلوماتو عمومي ادارې ویاند محمد حلیم رافع په ایکس پاڼه کې لیکلي چې د ترسره شوې ارزونې له مخې سږ کال په ټول هېواد کې څه باندې درې میلیونه هکټاره ځمکه تر کښت لاندې ده، چې له دې ډلې ۲/۱ میلیونه هکټاره اوبیزه او نږدې ۸۷۴ زره هکټاره للمي ځمکه جوړوي. د کرنیزو ځمکو د پراخوالي یو ... **۳مخ**

## د قطر پخواني امیر شیخ حمد بن خلیفه د ۷۴ کلونو په عمر وفات شو

د قطر دولتي خبري اژانس راپور ورکړی، چې د دغه هېواد پخواني امیر شـیخ حمد بن خلیفه الثاني د ۷۴ کلونو په عمر مړ شـوی دی. د هغه د واکمنۍ پر مهال قطر د طبیعي ګازو (LNG) په پراختیا او صادراتو سـره په یوه بډای او نړیوال ډیپلوماتیک ځواک بدل شو او د الجزیرې نړیوال خبري چینل په ۱۹۹۶ کال کې د هغه په فرمان تاسیس شو. د قطر د اوسني امیر تمیم بن حمد له دفتر څخه په یوه بیان کې ویل شوي: "خدای دې د هغه پر روح رحم وکړي او هغه تـه دې د هغه کار لپاره غوره اجـر ورکړي چې د خپل وطن او خلکو لپاره یې کړی دی." باید وویل شي چې شیخ حمد بن خلیفه له ۱۹۹۵ څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې د ۱۸ کلونو لپاره د قطر امیر و. هغه په خپله خوښه استعفا ورکړه او خپل زوی تمیم بن حمد یې د خپل ځای ناستي په توګه وټاکه.

## حمله ایران بر پایگاه‌های امریکا در منطقه

ارتش ایران اعلام کرد که در پاسخ به حمله‌های مداوم امریکا بر مناطقی در جنوب ایران، مجموعه‌ای از حمله‌های پهپادی را علیه مواضع نظامی امریکا در کویت و بحرین انجام داده است. شبکه خبری الجزیره به نقل از ارتش ایران گزارش داده که در این عملیات از پهپادهای انفجاری برای هدف‌قراردادن یک سـامانه دفاع هوایی پاتریوت، یک انبار مهمات و یک سایت راداری متعلق به ارتش امریکا در کویت استفاده شده است. به گفته ارتش ایران، در موج دیگری از این حمله‌ها، یک سامانه ارتباطی و یک سایت راداری امریکا در بحرین هدف قرار گرفته است. مقام‌های ایرانی، گفته که این عملیات در واکنش به حمله‌های مداوم امریکا بر مناطقی در جنوب ایران انجام شده است. تنش ها میان ایران و امریکا در روزهای پسین بار دیگر افزایش یافته و دو طرف مواضع یک‌دیگر را هدف قرار داده اند.

## ویتنام کې د هندي سیلانیانو کښتۍ ډوبه شوې

د ویتنام په سـوېل کې «فو کوک» ټاپو ته څېرمه د یوې سـیلانۍ کښتۍ د چپه کېدو له امله ۱۵ هندي سیلانیان مړه شوي دي. د چارواکو په وینا، په کښتۍ کې ۳۲ هندي سیلانیان او څلور د عملې غړي سپاره وو. له پېښې وروسته ۲۱ کسان ژغورل شوي دي. د یادې کښتۍ د چپه کېدو کره لامل لا تر اوسه نه دی څرګند شوی. هانوۍ کې د هند سـفارت ویلي چې د ژغورنې عملیات روان دي او د قربانیانو له کورنیو سره د همغږۍ لپاره په هانوۍ او هوچي‌مین ښار کې ځانګړې د رسېدنې خونې جوړې شوې دي.

## کاناډا کې وسله‌وال برید مرګ‌ژوبله اړولې

سـي بي ایس نیوز د کاناډا د پولیسو له قوله راپور ورکړی، چې د کاناډا په ټورنټو ښار کې د ډزو له امله دوه کسان وژل شوي او څو نور ټپیان شوي دي. د پولیسو په وینا، امنیتي ځواکونو د پېښـې ځای ته له رسېدو وروسته د ټپیانو د لېږد او د سـیمې د خوندي کولو اقدامات ترسره کړل او د برید په تړاو یې پلټنې پیل کړې دي. چارواکو ویلي: په دې پېښـه کې د ښکېلو دوو شکمنو کسانو د نیولو لپاره عملیات روان دي، خو تر اوسـه یې هویت او د برید انګېزه نه ده په ډاګه شوې. پولیسو د پېښې د څرنګوالي او احتمالي لاملونو په اړه نور جزئیات نه دي خپاره کړي او ویلي یې دي چې د پلټنو له بشپړېدو وروسته به نور معلومات له رسنیو سره شریک شي.

## بنګله‌دېش کې د سېلابونو له امله لسګونه تنه مړه شوي

په بنګله‌دېش کې د موسـمي بارانونو له امله رامنځته شـویو سختو سېلابونو ۴۴ تنـه مړه کړي او له یو میلیون څخه ډېر خلـک یې اغېزمن کړي دي. د دغه هېواد د طبیعي پېښـو پر وړاندې د مبارزې وزارت ویلي: سېلابونو په اوو سویل ختیځو ولسـوالیو کې د خلکو عادي ژوند ګډوډ کړی او شـاوخوا ۲۶۷ زره او ۹۱۸ کورنۍ په خپلو سیمو کې بندې پاتې دي. چارواکي وایي: پوځ او سمندري ځواکونه سېلاب ځپلو سیمو ته خوراکي توکي، د څښاک اوبه او درمل لېږدوي او حکومت له خلکو غوښتي چې د اړتیا په صورت کې خوندي پناه ځایونو ته انتقال شي.